مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

اکبر بری ۲۰۲۲/۱۲/۲۵

# که ته راغلې

که ته راغلې دغه ښار ته زما جانه
لړ زما د حال پوښتنه له چا وکړه
چې بې تا زه کوموکومو غمو چور کړم
چې ته لاړې زه په څه خوارۍ اخته شوم
او دا اوس لا پر ما کوم اورونه اوري...

زما یقین دی چې د ښار هر یو وګړی
به دا زما د غم کیسه وتاته وکړي
او که ستا باورد دوي په وینا نشي
نو له ښاره لړ وتلی زما ګرانه
دغي وراني کنډوالي ته خپله راشه
او په خپلو سترګو  ووینه دا حال مې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ